
ونو سفر
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ليکواله: اسما خروټی

د خپرولو نیټه: 5/20 /2025

عنوان: خیالونو سفر

خپرندوی: اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – لومړۍ برخه: غرونو کې ژوند او ښار ته سفر

زما نوم آینه دی. زه یوه ساده نجلۍ یم، د غرونو په منځ کې لویه شوې یم. زموږ کور له ښاره ډېرزما نوم آینه دی. زه یوه ساده نجلۍ یم، د غرونو په منځ کې لویه شوې یم. زموږ کور له ښاره ډېر لېرې دی. نه مې د ښار شور ماشور لیدلی، نه لوړې ودانۍ او نه هم رڼاګانې. زما دنیا یوازې غرونه، بادونه، او سیندونه وو. موږ کوچي یو – زه، زما مور او پلار. زموږ ژوند تل پر حرکت ولاړ و، خو زړونه مو تل د هماغه غرونو سره تړلي وو. ما به د پلار نه ډېرې کیسې اورېدلې. هره شپه به یې ویل: "آینه، د غره شاته یو ځای شته، هلته خوبونه ریښتیا کېږي. خو یوازې د پاک زړونو خلک هلته رسېږي." مور مې به وېښتان را جوړ وه، او ویل به یې: "زویه، ښکلا دا نه ده چې څېره دې ښکلې وي. ښکلا دا ده چې زړه دې مهربانه وي." زه به همیشه غرونو ته ختلم، د ګلونو بوی به مې اخیست، ستورو ته به مې کتل، او له ځان سره به مې ویل: "آینه، ته ښکلې یې، ته زړوره یې!" غرونه، باد، ستوري – دا ټول زما ملګري وو. ما به په خه طبیعت سره خبرې کولی، خو بیا هم یو احساس به و، چې نه پوهېدم څه شی دی. داسې خالي خالي به مې زړه و. ښایي یو څوک مې غوښت، څوک چې له ما سره چپ شي، او زما خیالونه واوري. خو زموږ کلی داسې نه و. دلته مینه د خوبونو خبرې وې. مور به مې ویل: "د نجلۍ زړۀ اوبه دي، خو باید په شیشې کې وساتل شي." خو ما به پټ ځان ته ویل: "زه غواړم زما زړۀ د باران په شان ازاد وي." یوه ورځ پلار راغی. سترګې یې سرې وې. ورو یې وویل: "آینه، باید ښار ته لاړ شو. دلته نور ژوند نه شته." زه چوپه شوم. غرونو ته مې وکتل. دوی هم غلي وو. باد نه وه. هر څه چوپ وو. زه پوه شوم... زما ژوند بدلېږي. او دا و زما د خیالونو سفر پیل... سهار و. لمر لا نه و راختی، او موږ روانېدو. توکې مو تړلې وه، پلار مې مخکې روان و، مور مې شاته، زه په منځ کې. زړه مې درزا کاوه، خو غلې وم. ما ورو ورو شا ته وکتل – زموږ خېمه، زموږ غرونه، هغه ونې، هغه ځایونه چې ما پکې خیالونه جوړ کړي وو. ورو مې وویل: "خدای پامان... زما د خیالونو کورا!" موږ یو زوړ موټر کې کیناستو. ما له کړکۍ بهر کتل. غرونه ورو ورو لرې کېدل، لکه زما زړه چې ټوټې ټوټې کېږي. مور مې لاس راباندې کېښود: "زویه، ښار ته درته نوې دنیا ده، خو خپل زړه مه هېروه." زه موسکۍ شوم، خو سترګې مې لمدې شوې. کله چې ښار ته ورسېدو، هر څه نوي وو. شور و، خلک ډېر وو، لوړې ودانۍ، موټر، رڼاګانې... زه چوپه پاتې شوم. زړه مې تنګ شو. ما ته دا هر څه پردي وو. پلار مې ورو وویل: "دا زموږ نوی ژوند دی، آینه." ما د اسمان خواته وکتل. هلته ستوري نه وو، نه هم غرونه. خو زه پوهېدم، زما خیالونه له ما سره دي. زه چیرې هم لاړ شم، هغوی به زما سره وي. او همداسې، ما د خپل د خیالونو دویم سفر قدم واخیست...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – دویمه برخه: ښاري دنیا، ناپېژندل شوی ژوند

کله چې مورې ښار ته راغلو، ما داسې احساس کوه لکه له خپل ځان نه چی جلا شوې وم. ښار ډېر غټ و، خو ما پکې ځان ډېر کوچنی احساس وه. د کوڅو شور، د موټرو غږونه، د خلکو چټک ګامونه، دا هر څه زما لپاره نوې نړۍ وه. ما به حیرانه کتل، څنګه خلک دومره بې‌احساسي روان دی؟ هېڅوک له هېچا سره سلام نه کوي، هېڅوک د بل حال نه پوښتي.
مورې یو کوچنی اپارتمان واخیست، درې خونې، یو وړکی پخلنځی، او یو بالکن. زه به تل بالکن ته وتلم، او د ښار اسمان ته به مې کتل. دلته اسمان هم بل رنګ درلود، داسې ښکارېده لکه چې د غرونو پاک اسمان نه دی، بلکې یو پټ، خفه اسمان دی.
ما خپله یوه پخوانۍ ټکرۍ درلوده، چې مې پکی د غرو نه راوړي ګلونه ایښي وو. کله به مې هغوی ته اوبه ورکولې، او له هغوی سره به مې خبرې کولې. ما ورته ویل:
"تاسې پوهېږئ؟ زه دلته پردۍ یم. دلته نه باد شته، نه ستوري، نه هم هغه چوپتیا چې زما زړهٔ ته سکون راکولو." مور مې به هڅه کوله چې مورې ته خوارہ وریژې پخې کړي، پلار به می د کار نه ستړی راتلو، خو زه به چوپه ناسته وم. ما به د پلار ستوماني ته کتل، او د مور غمجنو سترګو ته، او زړه به مې دردېده. شپه به راورسېده، او زه به د کړکۍ ترڅنګ ناسته وم، د ستورو تمه به مې لرله، خو دلته اسمان دومره دودجن و، چې ستوري نه ښکاره کېدل. یوه شپه مې ژړا راغله، داسې ژړا چې نه د درد، نه د غصې، بلکې د یو ورک شوي احساس ژړا وه. ما قلم راواخیست، او د زړه خبرې مې ولیکلې: "زه آینه یم. د غرونو نجلۍ. دلته یم، خو زړه مې هلته دی. زه یو خوب یم، چې د ښاري شور په منځ کې له منځه ځي" ما تصمیم ونیوه چې خپل خیالونه ژوندي وساتم. که څه هم ښار سړه نړۍ وه، زه به پکې خپل تود احساسونه خوندي ساتم. یوه ورځ مې پلار یوه کوچنۍ کتابچه راوړه. وې ویل: "آینه، دلته ولیکه... هر څه چې زړه دې غواړي" زما سترګې روښانه شوې. دا زما لپاره یوه دروازه وه، یوه نوې لاره. ما کتابچه خلاصه کړه، او وه می لیکل:
"زه غواړم یو ځل بیا د غرونو بوی واخلم، زه غواړم بادونه زما وېښتان وخوځوي، زه غواړم هغه چینه ووموم چې پلار مې ویل هلته خوبونه رېښتیا کېږي" ما به هره ورځ لیکل، هر احساس، هره شپه، هره هیله. دا کتابچه زما نوی دوست شو، زما غږ شو. او سره له دې چې ښار راته پردی و، خو ما دا دروازه خلاصه کړې وه، یو پټ ځای چې زه پکې خپله آینه پاتې شوم. او همدلته، د ښاري شور په منځ کې، زما د خیالونو سفر روان و. زه به نه هېرم، زه به نه ورکېږم، زه به بیا هم آینه یم – ساده، زړوره، او د خوبونو سره ملګرې.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – درېیمه برخه: د ځان موندنه

ښاري ژوند ته زموږ عادتېدل اسانه نه وو، خو ورځ تر بلې څه نا څه موږ ورسره بلدېدو. پلار مې د کار په فکر کې ډوب و، مور مې د کور کارونو کی بوخته، او زه… ما به هره ورځ له کړکۍ د ژوند ننداره کوله. د خلکو تیز تګ، د موټرو بې‌صبره غږونه، او د ودانیو ترمنځ بند اسمان… دا هر څه به زه نور هم چوپه کړم. خو یوه ورځ، یو شی بدل شو.
زه کتابتون ته لاړم، هغه ځای چې پلار مې راته ښودلی و. هلته سکون و. د کتابونو خاموشه نړۍ، د پاڼو اواز، او د خلکو نرمه خوله. زه د یوې زړې ښځې ترڅنګ کیناستم. هغې سترګې زما پر کتاب پرې شوې، په موسکاه شوه، او ویې ویل: "ته د غرونو نجلۍ ښکارې”
زه حیرانه شوم، ما ورته وویل، "هو… زه آینه یم. هغې راته وویل، "ستا له سترګو ښکاري چې ته د طبیعت له زړه راغلې یې. دلته هم ښکلا شته، خو باید پیدا کړې"
دا خبرې زما په زړهٔ نرمه ولګیده. له هماغې ورځې وروسته، زه به هره ورځ کتابتون ته تللم. هلته مې د کتابونو له لارې نوې نړۍ وموندله. د نورو خلکو کیسې، د زړونو خبرې، د خوبونو لیکنې. ما زده کړل چې زه یواځې نه یم. دنیا کې ډېر خلک شته چې زړه یې دردېږي، خو قلم یې دوا جوړ ده. ما د خپل ژوند کیسه لیکل پیل کړ.
هره شپه، زما کتابچه له احساساتو ډکېده. ما پکې ولیکل: "زه نه غواړم یوازې د غرونو یاد ولرم، زه غواړم ښار هم وپیژنم، ځان هم. زه به یو ځل بیا ځان پیدا کړم" یوه ورځ، ښوونځي ته لاړم. هلته هر څه راته نوي وو، خو ما تصمیم نیولی و چې ځان پیاوړی کړم.
زه به چوپه ناسته وم، خو خلکو به ما ته کتل، ځکه زما سترګو کې یو څه و… یو خاموش خو ژور پیغام. هلته مې یوه نجلۍ سره ملګرتیا پیل کړه، نوم یې بهاره وه. هغه هم له بل ځایه راغلې وه، او زموږ دواړو زړونه پردي ښاري ژوند ته نه وو عادت شوي. موږ به یو بل ته خپلې کیسې ویل، بهاره به ویل: "آینه، ته داسې خبرې کوې لکه شعر." زه به په موسکاه شوم، او زړه به مې لږ خوږ احساس وکړه. دا زما لپاره د ځان موندنې پیل و. ما زده کړل چې که خلک تا نه پېژني، خو ته باید خپل ارزښت وپيژني. که دنیا تا بدله کړي، ته باید خپله رڼا وساتې. زه اوس پوهېدم، آینه یم، د خیالونو نجلۍ، د غرونو اروا، خو اوس یو نوی سفر لرم — د ځان موندنې، د زړه پوهېدو، او د ژوند قبلولو سفر. او همداسې، د خیالونو سفر روان و… د یوه نوي باور سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – څلورمه برخه: د زړه خبرې

بهاره زما تر ټولو نږدې ملګرې شوه. موږ به یو ځای ناست وو، د کتابونو، خیالونو، او ژوند د رازونو خبرې به مو کولې. زما له زړهٔ سره دومره څوک نژدې نه وه شوی، لکه هغه. ما به خپله کیسه ورته ویله، او هغه به په موسکاه وه، غلې، خو داسې اورېده لکه غرونه.
یوه ورځ موږ د ښوونځي له ودانۍ بهر د ونو لاندې ناست وو. باد به ورو ورو شنه پاڼې ښورولې، او اسمان ته به کوچني بادلونه تېرېدل. بهاره راته وکتل او ویې ویل:
"آینه، ته کله کله داسې چوپه شې، لکه چې په زړهٔ کې دې طوفان وي"
ما وخندل، خو سترګې مې لمدې شوې. ورته ومې ویل:
"په زړه کې مې ډېرې خبرې دي، خو نه پوهېږم له چا سره یې ووایم. داسې احساس کوم، لکه یو څه مې چی ورک وي... یو څوک" هغې زما لاس ونیوه، ورو یې وویل:
"زړونه کله کله خبرې غواړي، نه حل. ته یوازې نه یې، زه درسره یم"
دا کلمات د تسل غوندې وو. هماغه شپه، ما خپل کتابچه خلاصه کړه، او و می لیکل:
"زما زړهٔ، ته واوره... زه پوهېږم ته یوازې یې. خو زه به نور تا یوازې نه پرېږدم. زه به درسره وغږېږم، زه به درته شعرونه ولیکم، خیالونه، امیدونه.."
په ښوونځي کې موږ ته یو نوی مضمون ورسېد — هنر. استاده یوه مهربانه ښځه وه، چې د احساساتو قدر یې کاوه. هغې موږ ته یوه موضوع راکړه: د زړه بڼه رسم کړه. ټول زده‌کوونکي د زړه نښه، یا سور ګل یی رسم کړ، خو ما یو تور او سپین غر رسم کړ، په منځ کې یوه نجلۍ چې آسمان ته ګوري. استادې زما انځور ته اوږدې شېبې وکتل، بیا ویې ویل:
'ته د خپل زړه انځور نه بلکې د خپل وجود انځور کړې" ما سر وخوځاوه. ځکه دا انځور زما دننه نړۍ وه. له هغې ورځې وروسته، زه د رسم، لیکلو، او خیالونو سره لا نوره نژدې شوم. زما ژوند که څه هم له غرونو لیرې شوی و، خو زما وجود لا هم هلته و. د غرونو ارامه ساه، د بادونو خوږه نغمه، او د طبیعت ژور غږونه، ټول زما د زړهٔ دوستان دی. زه به کله کله یوازې کېنستم، او خپل زړهٔ سره به مې ووېیل: "که څه هم دنیا بدله شوې، خو زه هماغه آینه یم. ما ته دا ښاري ژوند نوی دی، خو زه به پکې ځان ګورم، خپل ځای پیدا کوم، او یو وخت به دا دنیا هم زما د خیالونو برخه شي" او همداسې، د خیالونو سفر دوام درلود...
یو قدم نور هم ځان ته نژدې.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – پنځمه برخه: د زړه غږ

شپې تېرېدلې، او زه ورو ورو د ښار له ژوند سره اشنا کېدم. خو زما دننه یوه دنیا لا هم د غرونو، د ګلونو، او د خیالونو وه. زه به ښوونځي ته تللم، د بهارې سره به مې وخت تېر کړ، خو کله کله به مې زړه دومره تنګ شو، لکه چې په تنګ صندوق کې بنده یم.

یوه ورځ بهاره نه وه راغلې. زه یوازې پاتې شوم، د کتابونو ترمنځ، د خالي چوکیو سره. یو غږ مې واورېد، داسې غږ لکه د زړه. دا غږ به کله عاجز و، کله به زړور، خو دا زما خپل غږ و، زما دننه نه راوتلی غږ. "آینه، ته ولې چوپه یې؟ ته ولې خپل خیالونه پټ ساتې؟"

ما د دفتر له بغل نه یوه وړه کاغذ راواخیست، او وه می لیکل:

"زه یم آینه، زه د غرونو نجلۍ یم، ما به همیشه د ستورو سره خبرې کولی، خو اوس زه چوپه یم... ولې؟" هغه شپه، ما پریکړه وکړه چې نور به چوپه نه یم. زه به ولیکم. زه به خپل زړهٔ ته غږ ورکړم. د خوبونو کتابچه مې خلاصه کړه او شروع مې کړه:

"یو وخت یوه نجلۍ وه، چې دنیا ته به په بل رنګ کتل. هغې به د باران آواز ته غوږ نیوه، او د شنو پاڼو رڼا ته به یې خندل..."

زه یې کیسه لیکم، خو دا په حقیقت کی زما خپله کیسه وه.

بله ورځ، بهاره راستنه شوه. کله چې مې ورته خپله لیکلې کیسه ولوستله، هغې سترګې رانه نه اړولې، تر پایه یې واورېده، بیا یې ورو وویل:

"ته باید دا لیکلو ته دوام ورکړې، آینه. ته داسې غږ لرې چې زړونه ته لار پیدا کوي."

هغه ورځ، زه پوه شوم، زما خیالونه یوازې زما نه دي. که زه یې شریک کړم، نو شاید نور خلک هم پکې خپل ځان ومومي.

ما خپل پلار ته یوه لیک ولیکه، او ورته ومې ویل:

"بابا، زه اوس د غرونو نجلۍ نه یم، زه د خیالونو نجلۍ شوې یم. زه به د ښار له دې جنګجن ژوند نه یو نوی دنیا جوړه کړم – د زړونو، خیالونو، او رڼا دنیا."

او هغه شپه، ما خپل زړهٔ ته وویل:

"زه به نور چوپه نه یم. زه به غږېږم، لیکم، خیالونه ګورم، او خپل سفر ته دوام ورکوم – تر هغه چې یو ورځ زما خوبونه ریښتیا شي."

دا وه د خیالونو سفر بل پړاو... یو ګام بل هم رڼا ته

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خيالونو سفر

خيالونو سفر – شپږمه برخه: د امید څراغ

د ښار ژونده که څه هم ګڼه ګوڼه لري، خو زه ورو ورو پکې خپله رڼا پیدا کوم. ما زده کړل چې ځینې ورځې به آسانې، ځینې به درنې وي، خو هره ورځ یو نوی درس لري. زما د خیالونو کتابچه اوس نیمه ډکه شوې ده، له زړهٔ نه راوتلي کلمې، د دردونو نغمو، او د امیدو خنډو سره.

زما د صنف ښوونکې، مېرمن لیلا، یو ځل زما لیکنې ولوستې. هغې راوغوښتم، سترګې یې نرمې وې، لکه د مور. ویې ویل: "آینه، تا پخپل قلم داسې نړۍ جوړه کړې، چې انسان پکې آرام پیدا کوي. ته باید دا لیکنې نورو سره هم شریکې کړې." زه حېرانه شوم، خو زړهٔ مې خوشاله و. دا لومړی ځل و چې چا زما احساسات دومره ژور درک کړل. هماغه ورځ، هغې زما یو شعر د ټول صنف مخې ته ولوست. زه شرمېدم، خو زړهٔ مې درزا وهله، لکه چې د خوښۍ آواز کوي:

زه ده غرونو انجلی یم
ده خیالونو انجلی یم
زه سندره یم ده غرونو
زه زه مسکا یم ده سندونو
زه خوشبو یم بادونو
زه کوچي یمه ده غرونو
زه آینه یم
زه آینه یم...

زده کوونکي چپ پاتې شول، خو بیا بهارې لاس پورته کړ، په موسکاه شوه، او چکچکې یې ووهلې. ورو ورو ټول خندل، او ما ته یې وکتل، لکه زما پیژندنه چې وشي. دا شیبه زما لپاره یو روڼ څراغ و – د امید څراغ. له هغې وروسته، زه نور هم زړوره شوم. زه به لیکم، رسموم، او له نورو سره خپلې کیسې شریکوم. خلک به راتلو، "آینه، ستا لیکنه مې ولوستله. زما زوی اوس خوبونه ګوري" یا به یې ویل، "زه هم یو وخت د غرونو نجلۍ وم. ستا لیکنو زما زاړه یادونه تازه کړل"

زه پوه شوم چې خیالونه یوازې د خوبونو لپاره نه وي، دوی د ژوند برخه جوړېږي، که څوک جرأت وکړي چې وغږېږي، چې ولیکي، چې خپل زړهٔ خلاص کړي.

زه اوس د ښار نجلۍ یم، خو زما روح لا هم د غرونو سره دی. ما خپل دردونه سندرې کړل، او خپل زخمونه هنر. ما د چوپتیا نه غږ جوړ کړ، او د تیارو نه رڼا.

او اوس، زه هره ورځ خپل ځان ته وایم: "آینه، ته یوازې د خیالونو نه، ته د امید یوه رڼا یې. ته د هغو زړونو لپاره لیکې، چې غلي دي. ته د خوبونو د پوره کیدو نجلۍ یې"

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – اتمه برخه: د هیلو وزرونه

زه اوس هره ورځ یو څه نوې زده کوم، خو تر ټولو مهمه زده‌کړه دا ده چې څوک یم؟ زه آینه یم، خو زه څه غواړم؟ زما دنیا کومه ده؟ زما خپل ځان پېژندل، لکه د یوې پټې دنیا دروازه پرانستل وو.
ما ځان نه پوښتنې کولې. ولې زه کله کله خفه یم؟ ولې ځینې ورځې خوشحالې وي او ځینې نه؟ ولې د ځینو خلکو خبره ژور زما زړهٔ ته لېږي؟ او بیا زه پوه شوم، دا ځکه چې زړهٔ مې ژور دی، نرم دی، خو هم قوي دی.
یوه ورځ ما خپله پخوانۍ کیسه ولوستله — هغه چې کله ما ښار ته راتګ پیل کړی و. ما ورته وخندل، خو هم مې سترګې لمدې شوې. دا کوچنۍ آینه، څومره ساده، څومره بې خبره، خو څومره امیدي وه. زه هغه لا هم یم، خو اوس زړوره یم، پوهه یم.
بهاره زما خوا ته راغله، ویې ویل:
"آینه، ته بدل شوې یې، خو ښکلې لاره کې. ته اوس داسې غږ لرې چې خلک آراموي. ته د زړهٔ خبرې لیکې."
ما وخندل، خو بیا مې ورو ورته وویل:
"خو زه لا هم ځینې وختونه ځان نه پېژنم. زه احساس کوم چې زه یو څه لټوم... نه پوهېږم څه."
هغې زما لاس ونیوه، ویې ویل:
"مور ټول خپل ځان لټوو، آینه. خو ته لا مخکې یې. ته خپل زړهٔ ته غوږ نیسې، او همدا تر ټولو مهم کار دی."
په هماغه شپه، زه چت ته وختلم، اسمان ته مې وکتل. ستوري لکه پخواني ملګري، روڼ او نرمه رڼا. ما ورته وویل:
"زه ستاسې په څېر ځلېدل غواړم. نه د ټولو لپاره، یوازې د هغو لپاره چې تیاره احساس کوئ."
ما د زړه نه غږ واورېد:
"خپله لاره ته دوام ورکړه، آینه. تا چې پیل کړی، هغه د رڼا سفر دی."
او زه پوه شوم، زما لاره اوږده ده، خو ښکلې ده. دا د زړه، د خیالونو، او د امید لاره ده. زه به لټون ته دوام ورکوم — د خپل ځان، خپل مقصد، او د رڼا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – اتمه برخه: د هیلو وزرونه

په ښار کې د ژوند ورځې رواني وې، خو ما احساس کاوه چې زه اوس یوازې نه یم. زما خیالونه نور یوازې پټ نه وو. هغوی وزرونه لرل. زه یی چې لیکم، داسې به احساس کوم لکه چې زه زما خیالونه هیلی الوتل کوي، لکه چې زما خبرې د باد سره یو ځای شي او د چا زړه ته ورسېږي.

زما یوه لیکنه د ښوونځي مجلې کې چاپ شوه. زما نوم لاندې لیکلی وه: آینه – د خیالونو نجلۍ. ما دا لوسته، لاسونه مې لړزېدل، خو زړهٔ مې خوشاله وه. زه نه پوهېدم چې یو ساده نجلۍ، له غرونو راغلې، یو وخت به داسې حس کوي — لکه چې پر اسمان روانه وي.
استاد لیلا راغله، وې ویل:
"آینه، ستا لیکنې خلک بدلوي. ته باید هیڅکله لیکل پرېنږدې."
ما وخندل، ما یوازې سر وخوځاوه. خو ماته دا خبرې د وزرونو غوندې وې. ما داسې احساس کاوه، لکه زه چې اوس پر اسمان الوتی شم. هره جمله، هره کلمه، یو وزر و. او زه اوس دومره لوړ الوتی وم چې له وېرې نه خلاص وم.
خو د هیلو تر څنګ، لا هم دردونه وو. کله کله به مې د پلار تش ځای ته وکتل، د مور نرم لاس مې یاد شو، یا د غرونو خاموشي. خو ما دا دردونه هم بدل کړل، شعرونه مې کړل. ما له خفګانه رڼا جوړه کړه.
یو ځل مې په خپل کتابچه کې ولیکل:
"زه اوس نه ژاړم، زه لیکم. زه نه پټووم، زه وینم. زه نه تنبتم، زه وزرونه لرم!"
زه پوه شوم، که یو څوک زړهٔ خلاص کړي، خیالونه یې وزرونه شي. زه به نور هم لیکم، نور هم غږېږم. زه به د هغو لپاره لیکم چې غلي دي، چې غمجن دي، چې هیله غواړي.

زه آینه یم — د خیالونو نجلۍ، چې اوس د هیلو وزرونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيالونو سفر – نهمه برخه: د ازادۍ لمحه

يو ماسپښين، زه يوازې وم. ټولګي ته نه وم تللې. زړه مې غلی و، خو دروند. ما پريکړه وکړه، چې پارک ته لاړه شم. هغه زاړه پارک ته، چېرته چې يوه لويه ونه وه، او د هغې لاندې خاموش څوکۍ.

زه څوکۍ کی کيناستم. باد نرم و، پاڼې ورو ورو غورېدې، او اسمان ته يوه نازکه وريځ خوره وه. ما سترګې پټې کړې، ژوره ساه مې واخيسته، ما خپل زړۀ له غمونو خلاص کړ،
ما له ځان سره وويل:
"آينه، ته ازاده يې... لږ وخت لپاره، خو رښتيا ازاده."
په هماغه لحظه کې، ما احساس وکړه لکه يوه مرغۍ، چې له قفسه وتلې وي. د چا خبرې نه وې، د چا سترګې نه وې، يوازې زه وم، او زما خيالونه. دا احساس، لکه يو کوچنی خو قوي رڼا، زما دننه وځلېده.
زه پوه شوم، ازادي يوازې دا نه ده چې څوک تا بند نه کړي. ازادي دا ده، چې ته له وېرې، له شک، له درد نه خلاص شې — که لږ وخت لپاره هم وي. هماغه لږه لحظه، انسان بدلولی شي.

زه ولاړم، د ونې پاڼې مې لمس کړې، او ځان ته مې وخندل. ما ويل:
"زه اوس پوهېږم، دا څه احساس دی... دا ازادي ده."

له هماغې ورځې وروسته، زه کوښښ کوم هره ورځ لږ وخت ځان ته ورکړم — د ځان سره، د خپل خيال سره، د خپل ازاد فکر سره. دا کوچنۍ شېبې ما غښتلې، پياوړې کوي.

او زه پوهېږم، زه لا هم د سفر په منځ کې يم... خو اوس، زه د خپل روح د ازادۍ په خوند پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – لسمه برخه: مهربانه ملګري

زما ژوند ورو ورو بدلېدو، خو تر ټولو ښکلی بدلون هغه وخت راغی چې ما پیدا کړه — یوه رښتینې ملګرې. نوم یې حنا و. هغې به هم لیکل کول، خو پټه، هېچا ته به یې نه ښودل.
یو ورځ چې زموږ استاد د ازادۍ موضوع لیکلو ویلي وو، حنا خپله کاپي پر مېز پرېښوده. ما یو ځل ولوستله، حیرانه شوم. کلمې یې داسې نرمې او ژورتیا لرله، لکه زما د زړهٔ غږ وي.

ما ورته وویل:
"حنا، ته ولې دومره ښکلي لیکې او نه یې ښیې؟"

هغه شرمېدلې موسکاه وکړه، وې ویل:
"زه تل وېرېږم، چې خلک به خندېږي... یا به ووایي چې بېمانا ده."

ما لاس ورکړ، ورته مې وویل:
"زه خوشحاله نه یم، خو پوهېږم ته زړوره یې... ته هم د خیالونو نجلۍ خور یې."

له هماغې ورځې، موږ دواړه د خیالونو دنیا کې شریکان شو. حنا به ماته خپلې لیکنې ښودلې، ما به خپلې هغې ته لوستلې. موږ به یو بل ته فکر ورکولو. موږ دواړه به غلي و، خو کلمو مو شور جوړاوه.

کله چې به کومه ورځ خفه وو، یا غږ نه وو، موږ به فقط کاپۍ تبادله کوله — په یوه کاپي کې به یوازې لیکلي وو: "زه دلته یم" همدا دومره بس و. موږ پوهېدو.

زه اوس پوه شوم، چې زړوره ملګري یوازې هغه نه وي چې له تا سره وخاندي؛ هغوی دي چې ستا غم هم واوري، بې له دې چې قضاوت وکړي. هغوی دي چې ستا خیال ته هم احترام کوي.

زه خوشاله یم چې ما حنا پیدا کړه. او شاید... حنا هم خوشاله وي چې زه یې پیدا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – یولسمه برخه: د خوښیو وړانګې

ژمی ورو ورو تېرېده، او هوا کې د پسرلي نرمې نښې ښکاره کېدی. د غرونو لمنه هم لږ لږ زرغونه کېده، او هره ورځ مې له کړکۍ نه د نوو ګلانو پاڼې لیدلې. دغه کوچني بدلونونه لکه د ژوند نوي ارمانونه زما زړه ته خوښي راوړل.

زه او حنا د ښوونځي د رخصتۍ وروسته د کلي د یوې وړمې ونې لاندې کښېناستو. هغې له ځان سره دوه کوچني کتابچې راوړې وې. یوه یې ما ته راکړه او ویې ویل:

"آینه، دا زموږ د خوښیو کتاب دی. هره ورځ به پکې کوچنۍ خوښۍ ولیکو، هغه شیان چې زموږ زړه ته رڼا راوړي."

ما له خوشحالۍ مسکا وکړه، او ورته مې وویل:
"دا خو ښه فکر دی! زه به هم هره ورځ لږ تر لږه یوه خوشالي په دې کتابچه کې به یی لیکم."

هره ورځ، موږ دواړه خپل خوښي په دې کتابچه کې شریکولی. کله به مې ولیکل:
"نن مې یو ګل ولید، د هغه خوږو رنګونو زما ورځ خوږه کړه." حنا به بیا ولیکل:
"زموږ استاد راته وویل چې زه ښه لیکواله یم، دا خبرې مې په زړه خوږی ولګیدی."

موږ دواړه پوهېدو چې خوښي تل لویه نه وي. کله ناکله یوه وړوکې موسکا، د یوه دوست ښه خبره، یا د مور یوه پټه پاملرنه کافي وي چې زړه را خوږ کړي.

یو ځل چې ډېر خپه وم، حنا مې په کتابچه کې یوازې دا جمله ولیکله:
"زه دلته یم."
دا لنډه جمله راته دومره ځواک راکړ، لکه یو څوک چې تود ګرم څاڅکی په یخ زړه کې واچوي.

زه اوس پوهېږم، چې د ژوند په هره سخته شېبه کې، که د خوښیو وړانګې ولټوې، نو هغه به تاته رڼا او ارامتیا راوړي.
زه له خپلو خیالونو، له خپلو ملګرو، او له دې وړو وړو خوښیو مننه کوم،
چې زما ژوند یې ښکلی کړی دی.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – دوولسمه برخه: په دردونو بریا

ژوند تل د خوښیو کیسه نه ده. ځینې وختونه داسې شیبې راځي چې زړه مو دروند وي، اوښکی مو نه شي بندولای، او فکرونه لکه تور وریځې زموږ په ذهن کې تاوېږي. ما هم دا دردونه لیدلي، خو اوس مې زده کړل چې دردونه د زړورتیا ښوونکي دي، او زموږ د زړونو پیاوړتیا سبب ګرځي.

یوه ورځ د غرونو له خوبونو لرې، زه یوازې او خفه ناست وم. د زړه غم مې دومره و چې هېڅ شی راته راحت نه راکولو. اوښکو مې په خپلو لاسو کې وځاځېدلی، لکه باران چې په وچه ځمکه وه وریږي. په همدې حال کې حنا راته زنګ ووهلو. د هغې نرم غږ مې اورېدو، زړه مې لږ ارام شو.

حنا وویل:
".آینه، زه ستا سره یم. مه خفه کېږه، ته یواځې نه یې"

دغه ساده ټکي زما لپاره لکه یوه ګرمه ځاځکه ؤو، که ځمکه وسوځي، بیا هم پکې تخم کرل کېدی شي. زه پوهېږم چې دردونه پای نه دي رسېدلي، بلکې د نوي ژوند پیل دی.

ما ځان ته وویل:
".آینه، دا غم هم تېرېږي. ته قوي یې، او کولی شې چې له دې حالته را ووځې"

ورو ورو مې د دردونو په منځ کې یوه وړوکې رڼا ومونده، هغه رڼا چې زغم، امید، او ځواک راکوي. زه پوهه شوم چې ژوند له هرې ژړا وروسته خوشالي راولی، او هر زخم وروسته روغتیا.

زه اوس د ژوند د ستونزو پر وړاندې زړورتیا لرم. هره ژړا، هر مات شوی زړه، زه پیاوړې کړی یم. زه به هېڅکله له خپل خوبونو، له خپلو هیلو نه لاس وانخلم. ځکه چې زه پوهېږم، چې حتی په سختو ورځو کې هم رڼا شته، یوازې موږ ته پکار ده چې هغه پیدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – دیارلسمه برخه: په مینه کې لومړي ګامونه

زما زړه لومړی ځل و چې دومره تیزه رپیده. د ښوونځي په یوه عادي ورځ کې مې له حنا سره یوه نوې ملګري وپېژنده، د هغې نوم سارا و. سارا یوه ساده، خو ډېره مهربانه نجلۍ وه چې تل یې پر مخ یو نرمه موسکاه ځلېده. زه نه پوهېدم چې د هغې دغه موسکاه به زما د ژوند یوه نوې رڼا شي.

موږ ژر ډېر نږدې شو. هره ورځ به موږ سره د خپلو خیالونو، خوبونو، او هیلو خبرې کولې. سارا ماته ویل چې ژوند باید ښه وي، او مینه لکه ګل ده چې پاملرنه ورته پکار ده. هغی راته وویل:

"آینه، مینه یوازې د زړه خبرې نه دي، مینه د باور او درناوي نوم هم دی."

ما کله هم دومره ښکلي خبرې نه وې اورېدلي. د هغې په شتون کې مې ځان ډېر ارام او خوندي احساساوه. خو بیا هم، زړه کې مې لږه ویره هم وه. زه نه پوهېدم چې څنګه به دغه نوې احساسات سمبال کړم.

یو ماښام، ما او سارا د کلي د سیند پر غاړه کښېناستو. سپوږمۍ روښانه وه او هوا خوږه او خوندوره وه. ما سارا ته وویل:

"زه نه پوهېږم چې دا احساسات څه دي، خو زه غواړم پوهه شم."

سارا په نرمه لهجه وویل:
"آینه، هر څه وخت غواړي. مینه یو سفر دی چې باید په حوصله او صبر سره وشي."

زه پوهېدم چې مینه یوازې خوشالي نه ده، بلکې زغم او مسؤلیت هم لري. دا پوهه مې زړه نور هم قوي کړ.

ما زده کړل چې د مینې لپاره صداقت، احترام او مهرباني مهم دي. دا شیان مینه قوي ساتي. ما پرېکړه وکړه چې خپل زړه خلاص کړم او هره ورځ ښه فکر وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – څوارلسمه برخه: د زړه رازونه

زما زړه اوس له نويو احساساتو ډک و. هره شپه به مې خوبونه کتل، خو داسې رازونه مې لرل چې له هیچا سره مې نه وو شریک کړي. دا رازونه می په زړه بوج او دردونکی وه چی ما نه شو کولی چا سره شریک کړم،

زه پوهېدم چې هر څوک خپل پټ رازونه لري، خو زما رازونه درانه ول، ما هیله درلوده چې یو څوک مې پیدا کړی وای، څوک چې خبرې مې واوري، پرته له قضاوت یا بې احترامۍ. دا رازونه مې نه شو ویلای، خو زړه مې پرې یخ او غمجن و.

سارا، زما مهربانه ملګرې، یوه ورځ یی راته وویل:
آینه، هغه څه چې دی په زړه کی دی او دربانډی دروند وي، باید له چا سره شریک شي. که د باور" "وړ څوک پیدا شي، نو زړه ارامېږي او دردونه یی کمېږي.

ما ویره لرله، وېره چې که خپل رازونه ووایم، خلک به وخندی یا به راته بد ووايي. خو بیا مې زړورتیا وکړه، او خپله درنه خبره مې سارا ته وکړه.

سارا مې خبرې په پوره پام واورېدې. هغې زما درد احساس کړه، او راته ویې ویل:
"دا رازونه به زموږ ترمنځ وي، آینه. زه به تل له تا سره یم. هېچا ته به یې نه وایم."

دې خبرو زما زړه روښانه کړه، لکه چې تیاره شپه کې څراغ بل شي. زه پوه شوم چې په ژوند کې داسې خلک شته، چې ربښتیني ملګري وي او د زړه رازونه خوندي ساتي. ده باور وړ وی.

ما زده کړل چي که څه هم رازونه ساتل مهم دي، خو کله چې له باور وړ چا سره یې شریک کړو، زړه مو ارامېږي، دردونه مو ښه کېږي، او ژوند اسانه کېږي.

اوس زه د خپلې ملګرې سره خپل ژوند په نوې هیله، زړورتیا او باور سره روانه یم. زما رازونه نور یوازې درد نه دي، بلکې زما د ځواک برخه ده.
ما زده کړل چې مینه، باور او ملګرتیا هغه قوتونه دي چې زخمونه رغوي او غمونه خندا ته بدلوي. زړه رازونه زموږ د ژوند ښکلی اړخ هم کېدی شي، نه یوازې غم.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – پنځلسمه برخه: د ژوند نوې لار

د زړه د رازونو شریکولو وروسته، زما دننه یو نوی بدلون راغی. لکه څنګه چې سپرلی د ژمي له تودوخې وروسته هر څه نوي رنګونه او تازه هوا راولي، زما ژوند هم د نوو هیلو، باورونو، او خوبونو ډک شو. زه اوس پوهېدم چې ژوند یوازې د ستونزو ډګر نه دی، بلکې د زده کړې، هڅې، او امیدونو یوه اوږده لاره ده.

د کلي خلکو سره زما اړیکي ورو ورو ښې شوي. زه اوس ځان نه یواځې د کورنۍ غړې ګڼم، بلکې د ټولنې یوه برخه هم محسوسوم. د ملګرو په منځ کې مې خپل ځای پیدا کړ، او دا ځای مې له زړه سره ډک کړ. هره ورځ مې د ځان لپاره نوي هدفونه ټاکل او هڅه مې کوله چې هره ستونزه د بریا فرصت وګڼم.

مور مې چې د زړه له کومې راسره مینه درلوده، یوه ورځ راته وویل: "زویه، ژوند تل اسان نه وي، خو هغه څوک چې په خپل زړه باور ولري، هیڅکله به له تیارو ونه وېرېږي. ته باید تل خپله رڼا وساتی."

زه له دې خبرو ډېر خوښ شوم. هغه ورځې مې خپلې پښې کلکې کړې چې هیڅکله به د ناکامۍ نه ویرېږم او د خپلو خوبونو تعقیب به کوم، که هر څومره چې لاره سخته وي. زما ښوونځي ته نوې زده کړې راغلې، هره ورځ مې ځان ته ویل: "آینه، ته قوي یې، ته کولی شې. هېڅکله مه پرېږده چې ستا هیلو ته څوک تاوان ورسوي."

د کورنۍ مینه او د ملګرو ملاتړ زما د زړه قوتونه وو.
زه پوهېدم چې راتلونکې لاهم له خنډونو ډک ده، خو اوس مې هیڅ ویره نه درلوده. هر خنډ به زما د پرمختګ یوه برخه وي.

په دې نوې لار روانیدو کې، ما زده کړل چې ژوند یوازې د هدفونو تعقیب نه دی، بلکې د هغه هر ګام خوند اخیستل هم دی. د ستونزو پر ځای مې د ښو درسونو، نوو ملګرو، او د ژوند د ښکلاوو قدر زده کړل.
زه اوس پوهېږم چې هره تیاره شپه پسې رڼا راځي، او هر مشکل وروسته بریا راځي. دا باور مې په زړه کې ځای پر ځای کړ چې زه به خپلې لارې ته دوام ورکړم، پرته له دې چې کومه ستونزه راشي.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – شپاړسمه برخه: د زده کړو سفر

ما د ژوند په دې پړاو کې، زده کړه چې یوازې د کتابونو لوستل نه وو، بلکې د ژوند د هرې ورځې نوې کیسه وه. زه پوهه شوه چې پوهه او علم د ژوند د کامیابۍ کلي دي. هره ورځ مې د ښوونځي دروازې ته په هیله ننوتلم، ځکه پوهېدم چې هلته نوې نړۍ راته پرانستل کېږي.

په پیل کې هر څه نوي ول، نوي مضامین، نوې ژبې، نوې خبرې، نوې ملګري. دا هر څه زما لپاره یو څه سخت وو، خو د زړه زړورتیا مې راویښه کړ چې د دې ستونزو مخ ته لاړ شم. ما ځان ته ویل:
"آینه، ته قوي یې، هېڅکله وېره مه کوه. ته کولی شې له هرې ستونزې تېره شې."
مور مې به راته ډاډ راکولو، هڅول مې چې زده کړه مهمه ده. هغې به ویل:

"زویه، زده کړه نه یوازې د ځان لپاره ده، بلکې د ټولې کورنۍ د رڼا لپاره ده. ته باید د پوهې په دې لاره کې تل هڅاند اوسې" یوه ورځ، زما ښوونکي راته وویل:
"آینه، ته ډېر ښه پرمختګ کړی یې. ته یوازې ښه زده کوونکې نه یې، بلکې د نورو لپاره یو احساس یې."
دغه خبرې مې زړه ته ډېر خوشالي راوړه. ما احساس کړ چې زما هڅې بې ځایه نه دي. هره ورځ مې سخت کار کاوه، د خپلې راتلونکې لپاره مې امید درلود. زده کړې ماته دا زده کړه راکړه چې هېڅکله مه تسلیمېږه، ځکه پوهه د ژوند تر ټولو لوی سرمایه ده.

په دې سفر کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ شوم. ځینې ورځې مې زړه ماتیده، ځینې ورځې مې فکر کاوه چې نور نه شم کولای. خو ما هره ناکامي د زده کړې فرصت وګڼلو. د خپل زړه غږ مې اورېدلو چې تل مې ویل:

"دا لار سخته ده، خو ستا خوبونه ترې نږدې دي."

د ښوونځي هره ورځ نوې تجربه وه. د کتابونو تر څنګ مې له خلکو زده کړه وکړه، د هغوی د ژوند کیسې مې واورېدې، او خپل فکر مې پراخ کړ. دا ټول مې روح تازه کړ او زما د ژوند نوې رڼا شوه. زه اوس پوهېږم چې د زده کړو سفر یوازې د کتابونو نه دی، بلکې د ژوند هره برخه ده. هره ستونزه، هره خنده، هره هڅه، دا ټول زما د پرمختګ برخه د. زه به تل هڅه کوم چې خپل خوبونه ریښتیا کړم، ځکه چې پوهه زما د زړهٔ څراغ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – اووه لسمه برخه: د هڅې میوه

زما د ژوند په دې پړاو کې، مې د خپل ځان او خپلو خوبونو لپاره سختې هڅې وکړې. هره ورځ مې له سهاره تر ماښامه کار کاوه، نه یوازې د زده کړو لپاره،

بلکې د خپل زړه د خوبونو د پوره کولو لپاره هم. زه پوهېدم چې هیڅ شی په آسانۍ نه راځي، او که غواړم خپلې هیلې ریښتیا کړم، باید خپل ټول قوت ورکړم.

ما په ځان باور وکړ او هره ناکامي مې د یوه نوي پیل په څېر وګڼله. کله چې مې په ښوونځي کې ستونزې درلودې، زغم مې وکړ او هڅه مې کوله چې خپلې کمزورۍ له منځه یوسم. مور او پلار مې مې تل راته ویل چې زړورتیا هغه ده چې په سختیو کې هم مخ په وړاندې لاړ شي.

اسما خروټی

په دې مسیر کې مې دوستان پیدا کړل، ملګري چې زما دردونه او خوښۍ یې شریکولې. دوی مې ملاتړ کاوه او ما ته یې انرژي راکوله. زموږ منځ کې یو داسې تړون رامنځته شو چې هېڅ شی ماتولای نه شو.

وروسته، ما ده خپلو هڅو میوه ولیده. د ښوونځي په امتحانونو کې مې ښه نمرې ترلاسه کړې او ښوونکي مې زما د پرمختګ ستاینه وکړه. زه اوس پوهېږم چې کولی شم هر څه ترلاسه کړم، که مې زړورتیا او صبر وکړ.

دا نتیجه یوازې په زده کړو کې نه وه، بلکې د ژوند په نورو برخو کې هم ښه بدلونونه راغلل. اوس زه پیاوړې یم، په ځان باور لرم، او خوشاله یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – اته لسمه برخه: د ماضي سیوري

کله چې زه د خپل راتلونکې په اړه فکر کوم، زړه می بیا هم د ماضي هغو کړاوونو ته ځي چې ما پرې تیر کړي دي. زما د ژوند تیاره شپېې لا هم زما په ذهن کې ژوندۍ دي، لکه هغه قدمونه چې په شګو کې واخیستل شي او بیا بېرته نه راځي.

تیر ژوند زما لپاره یوازې یوه خاطره نه ده، بلکې یو ښوونکی دی چې هره ورځ یی درس راکوو. هغه درسونه چې ما ته یې زغم، حوصله، او صبر را وښود. هره ژاړه ما ته یو څه را زده کړل، هر غم او هر مشکل چې ما تېر کړ، زما د ژوند یوه برخه شوه.

زه پوهېږم چې که تېرو تېروتنو مې نه وای کړې، زه نن هغه څوک نه وای چې اوس یم. تیر ژوند دښمن نه دی، زه ورته احترام لرم ځکه چې ماته یې د ژوند اصل درس راښودلي.

کله کله ما زړه ماتیږي، کله کله بیا خپل ځان ته وایم:

"آینه، ته قوي یې، ته تېر وختونه شاته پرېږده او مخ ته ګوره."

د تیر ژوند یادونه زما سره اوس هم دی، خو زه پرې کنټرول لرم. زه زده کړه کوم چې ژوند یوازې د تیر وختونو په اړه نه دی، بلکې د نن ورځې او راتلونکې لپاره دی.

زه اوس هڅه کوم چې د تیر وخت دردونه د خپل زړۀ د رڼا لپاره بدل کړم، څو زما د ژوند راتلونکی روښانه او ښکلی وي.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خيالونو سفر

خيالونو سفر – نولسمه برخه: د راتلونکې هيله

د تير ژوند نه وروسته، زما زړه بيا د راتلونکې خوبونو ډک شو.
زه پوهېږم چې راتلونکې يوازې هيله نه ده، بلکې يوه قوي اراده ده.
هره ورځ د سبا لپاره پلان جوړوم او خپل خوبونه پوره کوم.

زه پوهېږم چې ژوند به آسان نه وي، خو دا هم پوهېږم چې زما زړورتيا او صبر به راسره وي. ما زده کړي چې هيڅه د تل لپاره ثابت نه وي؛ هره شپه وروسته له تورو ورځو يو روښانه سهار راځي.

زما خوبونه اوس لوی دي، او زه چمتو يم چې د ژوند هره ننګونه ومنم. زما کورنۍ، ملګري، او ښوونکي زما سره دي، او دا ملاتړ ما ته قوت راکوي چې خپلو هدفونو ته ورسيږم.

زه باور لرم چې که زه خپله هڅه ونه کړم، نو څوک به زما لپاره دا کار ونه کړي نو زه خپله د خپل راتلونکې معمار يم. هره ورځ مې هڅه ده چې يو غوره انسان شم، يو غوره زده کوونکې، او يو غوره دوست.

راتلونکې زما لاسونو کې ده، او زه به خپل ژوند داسې جوړ کړم چې د ټولو هغو کسانو لپاره يو مثال شم چې له ستونزو سره مخ دي.

اسما خروټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

خیالونو سفر – شلمه برخه: بهار – د ژوند نوی فصل

د اوږدو هڅو، د زړورتیا او زغم له لارې، زه اوس یو نوی فصل ته داخله شوم. لکه څنګه چې بهار راځي او طبیعت ته نوی ژوند ورکوي، همداسې په ژوند کې هم بدلون راځي او هر څه تازه کېږي، زما ژوند هم نوی رنګ او نوی خوشبويي پیدا کړه.

زه اوس د خپلې لارې د هر ګام په اړه ډاډه یم. ستونزې چې زما مخ ته راغلې وې، ما ته ځواک راکړ او زما باور لا زیات کړ. اوس زه پوهېږم چې هر خنډ یو نوی فرصت دی، هر تیاره یوه نوې رڼا لري.

د خپلو ملګرو، کورنۍ، او ښوونکو ملاتړ زما لپاره د دې بهار ګلونه دي چې زما په زړه کې غوړېږي. زه چمتو یم چې خپلې هیلې تعقیب کړم، خپل خوبونه ریښتیا کړم، او نړۍ ته ښکاره کړم چې زه څه کولای شم.

بهار یوازې د طبیعت نوم نه دی، بلکه زما د ژوند یوه نوې برخه ده، یوه نوې پیل. زه به هېڅکله له خپلو خوبونو او ارمانونو څخه نه تېرېږم. ځکه چې زه پوهېږم چې هره ورځ یو نوی فرصت دی چې د خپل ژوند کیسه په خوښۍ او بریا ولیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیالونو سفر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**